# د شاتوموندونکپ مرغۍ غچ



Zulu folktale

Wiehan de Jager

Zahidullah Abid

4

پښتو ps



دا د نګيد په نامه د شاتو د ځالو لارښود مرغۍ او د جميل په نوم د يوه لالچي ځوان کيسه ده. يوه ورځ جميل د ښکار لپاره بهر تللی و چې د نګيد مرغۍ غږ يې واورېده. هغه خوشحاله شو چې د همدې مرغۍ پر مټ به د شاتو ځاله پيدا کړي، ودرېده او په ځير سره غوږ شو، تر څو يې چې د خپل سر د پاسه د ونې په څانګو کې مرغۍ وليدله. "چيټيک-چيټيک-چيټيک،" وړې مرغۍ سندرې ويلې، يوې ونې ته يې ټوپ کړ، بيا بلې ونې ته والوتله "چټيک، چيټيک، چيټيک،". او همدارنګه نګيد به هم وخت په وخت درېدله، ترڅو ډاډمنه شي چې جميل يې تعقيبوي.



نیم ساعت وروسته، دوی د اینځر یوې لویې ونې ته ورسېدل.
نګید په خوشالۍ سره د ونو په څانګو کې الوتنې کولې. جمیل ته
یې د سر په اشاره وویل چې راځه د شاتو د ځالې په پیدا کولو کې
به مرسته درسره وکړم، خو ولې دا ځنډېږي؟ جمیل د شاتوګبین نه
و لیدلی، خو پرنګید یې باور درلود چې سمه لارښوونه به ورته
کوي.



نو جمیل خیله د ښکار نیزه د ونې لاندې کېښوده، یو څو دانې وچ لرګي یې راټول کړل او اور یې بل کړ. کله چې اور ښه ولګېده، نو د اور په منځ کې یې یوه اوږده وچه لښته کېښوده. دا لښته د لوګي جوړولو ځانګړې لښته وه. هغه ونې ته په ختلو پیل وکړ، سګرټ یې په خوله کې نیولی و.



ډېر ژر يې د ګڼو مچيو غږونه واورېدل. مچۍ د ونې له تنې څخه راوتلې او دننه کېدلې. کله چې جميل د مچيو خالې يا ګبين ته ورسيد، نو هغه د سګرټو لوګی ګبين ته وردننه کړ. مچۍ ډېره غوسه او بې رحمه ښکارېدې. په بېړه راووتلې او وتښتېدلې، ځکه چې د دوی لوګی نه خوښېده – خو دوی په تګ تګ کې جميل ښه سم وچيچه.



کله چې مچۍ له ځالې بهر شوې، جمیل د مچیو ځالې ته لاس
دننه کړ. هغه د شاتو یو غټ ګبین راوویست چې ښه ډېر شات
پکې و. جمیل په ډېر احتیاط سره هغه په کڅوړه کې واچوه، کڅوړه
یې اوږې ته کړه، او له ونې څخه په ښکته کېدو شو.



نګيډ مرغۍ د جميل دا چاره په ځير ځير سره ليدله.. هغه په دې تمه وه، چې جميل به د شاتو د ګبين يوه ټوټه نګيډ ته د شاتو ځالې د ښوونې، د نذرانې په توګه پريږدي. نګيد له يوې څانګې څخه بلې څانګې ته والوته، ځمکې ته راټيټه شوه، بيرته پورته شوه. بالاخره جميل د ونې څخه ښکته شو. نګيد جميل ته نږدې په يوه ډبره کښيناسته، او د هغه د انعام د ترلاسه کولو انتظار يې کوه.



خو جمیل اور مړ کړ، خپله نېزه یې واخیسته، او د کور په لور روان شو. نګید په غوسه غږ وکړ، "وک ټورررررر وک!" جمیل ودرېده، کوچنۍ مرغۍ ته یې وکتل او په لوړ غږ یې وخندل، مرغۍ ته یې وویل "ته شات غواړې؟ په رښتیا یې غواړې، زما ملګریه؟ هو!" "ټول کار خو ما وکړ، د اور بلولو لښتې مې راټولې کړې. نو زه بیا ولې له دا خوندور شات له تا سره شریک کړم؟" دا خبره یې وکړه او روان شو. نګید ډېره په قهر شوه! د جمیل څخه د بدل اخیستلو لپاره ورسره هیڅ لاره نه وه! خو هغه به یوه ورځ خپل غچ هرومرو اخلي.



ځو اوونۍ وروسته یوه ورځ جمیل بیا د نګید د شاتوموندونکې مرغۍ غږ واورېد. د هغه خوندور شات فکر ته راغلل، او په ډېره لیوالتیا یې یو ځل بیا مرغۍ تعقیب کړه. دا ځل نګید جمیل د ځنګل یوې څنډې ته یوړ. نګیډ د اغزیو د چترۍ لاندې ودرېده. "آه،" جمیل فکر وکړ. "چه د شاتو ګبین باید په دې ونه کې وي." هغه په ډېرې چټکۍ سره اور بل کړ، او ونې ته په ختلو شو، په خوله کې یې د لوګیو سګرټ و. نګید ناسته وه، او یوازې ننداره یې کوله.



جمیل ونې ته پورته شو، حیران شو چې ولې د تل په شان د مچیو غبړ نه اوري. هغه له ځانه سره فکر وکړ"شاید د ونې تل کې وي،" یوې بلې څانګې ته پورته شو. خو دا ځل یې د ګبین پر ځای یې د پړانګ مخ ته کتل! پړانګ ډېر په غوسه و، چې د هغې خوب یې په بې رحمۍ سره خراب کړی و. هغې خپلې سترګې تنګې کړې، خپله خوله یې خلاصه کړه، چې خپل خورا لوی او تیره غاښونه ښکاره کړي.



مخکې له دې چې پړانګ په جمیل حمله وکړي هغه له ونې څخه په چټکۍ ښکته شو. د ونې له څانګو یې ځمکې ته راټوپ کړ، او په منډه شو. جمیل نېکمرغه ه و ځکه چې پړانګ ستړی و او دومره وس یکښې نه و چې د جمیل پسې منډې وکړي، او هغه ونیسي، له دې سره جمیل خوندي پاته شو او عبرت یې واخیست. نګید هم خوشحاله وه چې له جمیل یې خپل غچ واخیسته.



له همدې امله کله چې ماشومان دا کیسه اوري د جمیل او نګید پېښه یې ذهن ته راځي او د شاتو را ټولولو وروسته یوه برخه لارښوود مرغۍ ته ورکوي.

# Global Storybooks

globalstorybooks.net

## د شاتوموندونکې مرغۍ غچ

Zulu folktale
Wiehan de Jager
Zahidullah Abid

CC BY